محمد هارون خپل شعشعی

۲۶ دسمبر ۲۰۱۱

## د
## علی محمد مخلص
## عرفانی فرهنگ
### د محمد هارون خپل شعشعی
### لیکنه او څیړنه
### ۲۹

**۷۹- دکتلو یا رویت عالم : وگورئ د« عالَم او د هغه ډولونه » ترسرلیک لاندي د ناسوت عالم**

**۸۰- دکُلیاتو عالم : وگورئ د« عالَم او د هغه ډولونه » تر سرلیک لاندي د جبروت عالَم**

**۸۱- دکوثر اوبه :**

دکوثر عربي تکی په لغت کي ډېر، کوټه، خرَه او زیات ته وايي . کوثر په جنت کي، د یوې والې یا چیني نوم هم دئ [۱] .

د کوثر چینه د قرآن کریم د کوثر د سورې په لومړي آیت ( ۱۰۸ : ۱ ) کي داسي بیان سوی ده : « اناعطینا الکوثر » ياني ( ای محمده! ) موږ تاته په جنت کي د ډېرخیر چینه در کړې ده . په سپېڅلي قرآن کي د کوثر تکی د پېرزویني، مهربانی، خیر، پوهي، حقیقت ،عقل ، روحاني ځواک او بصیرت هغه ناپایه چیني ته اشاره ده، چي په جنت کي بهېږي . د اسلامي روایاتو له مخي دا چینه د اسلام ستر پیغمبر- حضرت محمد ( ص ) او څه ناڅه برخه يي دخدای تعالی نورو سپېڅلو او مخلصو دوستانو ته ورکړل سوې ده . ویل کیږي، چي دا چینه د انسان روحاني تنده ماتيي؛ او بېلابېلي گټي رسيي[۲] . شیخ الهند مولانا محمود حسن دیوبندي او علامه شبیر احمدعثماني په خپل تفسیرکي، چي پښتو ژباړه يي په « کابلي تفسیر » مسما ده، د کوثر تکی د« ډېر خیر » یا« ډېرو ښېگڼو » په مانا ترجمه کړی دئ . دوی وروسته کاږي ، چي په دې لفظ کي گرده دیني او دونیوی شتمنی، مادي او مانوي (معنوي ) نعمتونه شامل دي . د « کوثر ډنډ » له دغو لویو نعمتوڅخه یو نعمت دئ .

حضرت پيغمبر ( ص) به د قيامت په ورځ د دغه حوض په اوبو خپل اُمت اوبيي . د « کابلي تفسير » مفسرانو دغه راز د ډېرو اسلامي عالمانو د وينا له مخي کښلي دي، چي د کوثر واله ( ويااله ) اصلاً په جنت کي ده، خو د هغي اوبه د حشر و ډګر ته راوړل کيږي؛ او په يوه ډنډ يا حوض کي را ټولېږي . دواړو ته يي د کوثر اوبه وايي[٣] .

په اسلامي تصوف او عرفان کي هم کوثر د معتبرو اسلامي نصوصو پر بنسټ، د بېلابېلو ښېګڼو او فضيلتو ناپايه چينه ګڼله کيږي . له همدې امله د تصوف او عرفان لارويان تل هڅه کيي، چي په خپلو عرفاني کوښښو او رياضتو سره، دکوثر د اوبو په تر لاسه کولو و وياړل سي .

زموږ لوړ مقامه عرفاني شاعر ، علي محمد مخلص، هم په خپله عارفانه شاعرى کي دکوثر د اوبو په باب په زړه پوري بيانونه کړي دي . هغه، په يوه غزله کي د وحدت سمندر د ټولو موجوداتو، د ژوند او هستى د اصلي منشأ په توګه انځوريي؛ د ده په باور، د دې بې ساري بحر اوبه د کايناتو تر هر موجود او مخلوق پوري رسېدلي دي . د معرفت او عرفان په ګانه سمبال کسان، په هر څه کي د وحدت د درياب نوګوري . مخلص، دې اوبو ته د رسېدو لار يوازي د عرفاني لارښود په لاس نيونه کي ويني :

د يوه په هستى هست تمام عـالَم دئ
د اوبو په نو تازه دئ خُرمـا، لوخه
چي هستي د مولا نه ګوري په ځان کښي
په معنى کښي بې خبر حيوان کـالوخه
بې مرشده به دغه اوبه و نه ښني!
د هستى عِلم يي زده کړه له شيوخه
که طالب دکوثر جوى يي په صورت کښـــي
په جهان کښي کړه حاصل مرشد رســـوخه

مخلص، ځان پيژندنه د اروا د عروج او لوړوالي نخښه بولي؛ او هغه څوک په ژوندانه کي دکوثر په نعمت سېرابه ګڼي، چي د خپلي اروا په ذات او رينه پسي پلټنه وکي :

روح قيمت د معرفت په سبب مومي
چي يي نن له خپله ځانه خبر بيـاموند
د ده ذات د حق هستي چي پي خبر شـي!
په حيات يي آب جوى د کوثر بيامونډ

په يوه غزله کي د کوثر اوبه د يقين او ايمان دښمنانو برخه ګڼي، چي ابو جهل غوندي بې ايمانه کسان به تل د له هغو ښېګڼو بې برخي يي (وي) . د مخلص په باور، د مادي او مانوي ښېګڼو دا بې مثله اوبه يوازي د نبوت او ولايت د علمبردار- حضرت محمد ( ص) د هغو پيروانو په برخه دي، چي دکامل پير په لارښونه يي د عرفاني مجاهدو او رياضتولار غوره کړي يي :

د کوثر اوبه نصيب د احمديـــو
د ابوجهل ګروه له دي اوبـو نه راسه
اي مخلصه! د کوثر اوبه په کور کښي
ښبى به نشي بې د پير کامل له لاسه

په بله غزله کې د وحدت کلیمه داسې بارداره او ښیرازه ونه ګڼي، چې عرفاني سالکان له هغې څخه د توحید مېوه تر لاسه کیي . دې ستر او لوړ مقام ته په رسېدو سره د هر لوښي اوبه د کوثر د اوبو په شان، تبرک او سپېڅلتیا مومي :

کلیمه د وحدت ونه ده بـــارداره
له دې وني به حاصل د توحـید بر کړي !
هر صورت په مثال لوښی، هستي آب دئ
په هر لوښي کښي به نوش آب کوثر کړي !

بل ځای کوثر اوبه د هغه چا روزي ګڼي، چې د رسول ( ع ) پر لار رهي يي؛ او د توحیدپیاله د خپل عرفاني لارښود، بایزید روښان، د لاس نعمت بولي :

د کوثر اوبه به وڅښي په بهښت کښي
چي ساقي د آب کوثر نبي احمد شي
د توحید پیاله به نوش کاندي بی شکه
چي مرید نن د روښان مرشد په ید شي

مخلص، د معتبرو اسلامي نصوصو په استناد، د مؤمن زړه ته د رب جلیل د حرم په سترګه ګوري، چې تر عرش لوی او تر کرسی پراخ دئ . له دې کبله هر هغه څوک د کوثر څښتن بولي، چې خپل سرکښ نوس لاندې؛ او د زړه په فتوا کار و کي :

کُل فتوا له زړه و غـواړه
دی مفتي د خیر وشر دئ
چي د زړه په فتوا کار که
په هستی صاحب کوثر دئ

**لمنليکونه**

١ عمید٣ : ٢٠٠٧ ؛ Wehr 845.
2 Yusuf Ali 1798.
٣ القران الکریم ٢: ١٧٦٧-١٧٦٨ .